٦






د افغانستان اسلامي امارت

ستره محكمه

# قضاء

شرعي

قضائي

حقوقي

## د افغانستان اسلامي امارت
## د سترې محکمې درې میاشتنۍ مجله

درېیم کال، شپږمه ګڼه
( محرم الحرام، صفرالمظفر او ربیع الأول ) ۱۴۴۶ هـ ق/ ۱۴۰۳ هـ ش

د تأسیس کال ۱۳۰۹ هـ ش

# قضاء

شرعي- قضائي - حقوقي
د افغانستان اسلامي امارت د
ستري محکمې درې میاشتنۍ
مجله

دربیم کال، شپږمه ګڼه ( محرم الحرام، صفرالمظفر او ربیع الأول ) ۱۴۴۶ هـ ق/ ۱۴۰۳ هـ ش

د تأسیس کال ۱۳۰۹ هـ ش

د امتیاز څښتن:  ستره محکمه     خپروونکی:د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

**کتنپلاوی**

شیخ محمد قاسم «راسخ»

مفتي عبدالرشید «سعید»

مفتي محمد حسین «کوثري»

مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم «راشد»

پته: د عامې روغتیا څلور لارې، نهمه ناحیه، ستره محکمه، کابل - افغانستان

د اړیکې شمېرې: ۲۳۰۰۳۶۱_۲۳۰۲۲۶۳

برېښنالیک: publications.sc1443@gmail.com

ویب سایټ:www.supreme court.gov.af




## د مطالبو لړلیک:


سرمقاله: ........ اداره ...۱
د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته ........ مولوي عبدالرحیم «راشد حقاني» ...۲
د اسلامي امارت اړتیا او د بقاء اسباب ........ مفتي شعیب (الحنفي) ...٦
سلسلهٔ مباحث قضاء ........ مفتی محمد حسین کوثری ...۱۰
د قرآنکریم ترتیب ........ محمد عیسی کندهاری ...۱۵
برنامهٔ خاص «عدالت اسلامی» با محترم شیخ محمد شریف (حقانی) .... اداره ...۲۱
گزارش اجراآت قضائی و اداری قوهٔ قضائیه طی ربع اول سال ۱٤۰۳ هـ ش اداره ...۲۵

# سرمقاله:

## د عادل او توانا څښتن په سپېڅلي نامه

لکه څرنګه چې تاسو ته معلومه ده قضاء د اسلامي نظام مهمه قوه ده؛ ځکه چې قضائیه قوه د اسلامي قلمرو په محدوده کې د مېشتو وګړو ترمنځ عدل تأمینوي، د ظالم د ظلم مخه نیسي او هېچا ته حق نه ورکوي چې پر بل چا ظلم وکړي.

د قضائیه قوې لخوا د عدل تأمین یوازې او یوازې هغه مهال ممکن دی چې د اسلامي نظام قضائیه قوه بشپړه خپلواکه او په تشکیل کې یې متخصص او مسلکي مسؤولین او منسوبین موجود وي، کار پکې اهل کار ته سپارل شوی وي او د اسلامي شریعت مطابق د مراجعینو موضوعاتو ته رسېدنه وکړي.

همدې مواردو ته په پوره پاملرنه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې عالي مقام رئیس او قاضي القضات په پوره توان هڅه کړې چې د بشپړې خپلواکې قضائیه قوې په تشکیل کې ټول مسؤولین او منسوبین د تخصص، ورتیا، دیانت، اخلاص او ژمنتیا په اساس وټاکي.

دغه راز سترې محکمې د محترم مقام د حکم او هدایت په اساس د قضاء، افتاء او تحریر په برخه کې د قضائیه قوې د قضائي منسوبینو (قضاتو، مفتي صاحبانو او محررینو) د ظرفیت لوړونې په موخه د سترې محکمې په تشکیل کې موجود د قضائي زده کړو عمومي ریاست له ځنډ او وقفې پرته په دوامداره ډول د ۳۴ ولایتونو د محاکمو نویو ټاکل شوو قضائي غړو ته لنډمهاله او اوږدمهاله قضائي سیمینارونه جوړوي، په دغه سیمینارونو او روزنیزو پروګرامونو کې د قضائي زده کړو عمومي ریاست د متخصصو استادانو او علماء کرامو لخوا ګډونوالو ته په عملي او نظري ډول د قضاء او افتاء درسونه ورکول کېږي.

د سترې محکمې د محترم عالي مقام د دې هڅو پایله ده چې الحمدلله ورځ تر بلې د محاکمو چارې چټکې او د مراجعینو موضوعاتو ته په ټاکلي وخت رسېدنه کېږي، د محاکمو له همدې لاسته راوړنو او اجراآتو څخه د هېوادوالو خبرول او هغوی ته په دې اړه کره او پر وخت معلومات ورانديې کول بیا د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست دنده ده؛ بناءً یاد ریاست د خپلې دندې د ښه ترسره کولو لپاره دادی یو ځل بیا په خپله دې چاپي خپرونه (د قضاء مجلې شپږمه ګڼه) کې هڅه کړې تر څو د ځینو علمي لیکنو لکه: د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته، د اسلامي امارت اړتیا او د بقاء اسباب، سلسله مباحث قضاء، د قرآنکریم ترتیب، د سترې محکمې د مرکزي تمیز له رئیس محترم شیخ محمد شریف (حقاني) سره د تمیز عالي ریاست په اړه د اسلامي عدالت ځانګړې خپرونه او په دې سربېره د اسلامي امارت د محاکمو د ۱۴۰۳ هـ ش کال د لومړۍ ربعې د اجراآتو لنډ راپور ځای پر ځای او تر تاسو قدرمنو لوستونکو در ورسوي.

**په درنښت**



# د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته


لیکوال: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم (حقاني)[1]
ژباړن: مولوي عبدالرحیم (راشد حقاني)[2]


**شپږمه برخه:**

**په نبوي دوره کې د قضاء تنفیذ:**

د پیغمبر (صلی‌الله علیه وسلم) په زمانه کې قضاء له فتوا سره ورته وه، د قضیې لوریو د موضوع په اړه د الله تعالی حکم اورېده او ویل یې: وامو ورېدل او اطاعت کوو، غالباً دوی خپله غوښتل چې شرعي حکم پرې تطبیق شي.

دا په داسې حال کې ده چې اجرائیه مرجع ته اړتیا نه وه، حق حقدار ته د سپارلو په موخه د حکم اجرا له ځنډ پرته ترسره کېده، لکه څرنگه چې پیغمبر (صلی‌الله علیه وسلم) ماعز له اعتراف وروسته سنگسار کړ. او انس (رضي‌الله عنه) ته یې د عسیف (رضي‌الله عنه) کیسه کې وویل: اې انسه، هغه ښځې ته ورشه، که یې اقرار وکړ رجم یې کړه، په دې سربېره نور ډېر مثالونه هم شته دي.

**په نبوي دوره کې د ځینو قاضیانو یادونه:**

په اسلام کې لومړني قاضي د الله تعالی خوږ پیغمبر محمد (صلی الله علیه وسلم) و، داسې پیغمبر و چې د قضائي چارو سمبالول، د آسمان له طرفه الهي وحیې ورته راتلل، د الهي شعائرو بیانول، د شریعت نافذول او د احکامو تطبیقولو مسؤولیتونه یې په غاړه وو، چې له دې سره یې بیا هم ځینې صحابه کرام فتحه شویو ځایونو او ښارونو ته د والیانو او قاضیانو په توگه لېږل.

دلته به موږ د ځینو هغه صحابه کرامو یادونه وکړو چې په نبوي دوره کې یې دا سپېڅلې دنده ترسره کړې وي.

**۱- قاضي علي بن ابي طالب (رضي الله عنه):**

د حضرت علي کرم الله وجهه د نسب لړۍ په داسې ډول ده، علي د ابو طالب زوی، هغه د عبدالمطلب، هغه د هاشم، هغه د عبد مناف زوی دی، د قریش له قوم او د بنو هاشم له قبیلې څخه دی، چې په ابوالحسن سره هم یادېده، د نبي کریم (صلی‌الله علیه وسلم) د اکا زوی او زوم هم و، نبي کریم (صلی‌الله علیه وسلم) خپله لور فاطمة الزهراء (رضي‌الله عنها) په نکاح ورکړې وه او د نبي کریم (صلی‌الله علیه وسلم) د دوو هغه

[1] ۱- د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئیس

[2] ۲- د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو رئیس

لمسیانو چې د جنت د اوسېدونکو مشران به وي، یعنې د حسن او حسین (رضي‌الله عنهما) پلار دی. په مکه مکرمه کې زېږېدلی او پالنه یې تر د نبي کریم (صلی‌الله علیه وسلم) په کور کې شوې ده، اسلام یې په ماشومتوب کې راوړی دی، په ماشومانو کې لومړی ماشوم و چې په اسلام مشرف کېږي، همدارنگه یو ډېر مېړنی، لوی عالم او ښکلی خطیب هم و، په ذکاوت او قضاء کې یې شهرت موندلی و، د حضرت علي (کرم الله وجهه) فضائل او ځانګړتیاوې ډېرې زیاتې دي، په دنیا کې د لسو جنتي صحابه کرامو او خلفاء راشدینو له جملې څخه څلورم تن دی، همدارنگه په قرآنکریم، میراث، شرعي احکامو او لغت باندې ډېر پوه و، چې بالآخره په ډېر غدر او فریب سره د هجرت په څلوېښتم کال چې له ٦٦١ میلادي کال سره سمون خوري د روژې مبارکې میاشتې په ١٧مه نېټه شهید کړل شو.

رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) یمن ته ولېږه، ترڅو د یمن ولس ته شریعت وروښایي او د دوی ترمنځ پرېکړې وکړي.

وکیع په خپل سند سره د علي بن ابي طالب (رضي‌الله عنه) روایت نقل کړی دی، چې علي (رضي‌الله عنه) وایي: رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) زه یمن ته لېږلم، نو ما وویل: اې د الله رسوله! ته ما لېږې، په داسې حال کې چې زما عمر کم دی او د قضاء په اړه ماته علم نشته؟

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وویل: «انطلق فان الله سیهدي قلبک، ویثبت لسانک» یعنې ته ولاړ شه، بې شکه چې الله تعالی به ستا زړه په حقه لاره برابر کړي او ستا ژبه او وینا به محکمه کړي. حضرت علي (رضي الله عنه) وایي چې بیا ماته د دوو خلکو ترمنځ پرېکړه کې هېڅکله شک او شبه نه ده را پیدا شوې.

همدارنگه وکیع په خپل سند سره د حضرت علي (رضي الله عنه) څخه بل روایت نقل کړی چې وایي: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) زه د یمن خلکو ته لېږلم، نو ما وویل: ته ما داسې قوم ته لېږې چې هغوی به زما څخه پوښتنې کوي او ماته هېڅ علم نشته؟ بیا یې وویل: چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خپل لاس زما په سینه کېښود او ویې ویل: « ان الله سیهدي قلبک، ویثبت لسانک، فاذا قعد بین یدیک الخصمان فلا تقضِ حتی تسمع من الآخر کما سمعت من الأول، فانه أحری أن یتبین لک»

یعنې بې شکه چې الله تعالی به ستا زړه په حقه لاره برابر کړي او ستا ژبه او وینا به محکمه کړي او کله چې تاته مخامخ دوه دعوه کوونکي کښېناستل، نو ژر پرېکړه مه کوه، ترڅو د هغه بل جانب څخه دې هم داسې خبرې نه وي اورېدلې لکه څرنګه چې دې د اول جانب څخه واورېدلې او دا کار کول حق ښکاره کېدو ته ډېر نږدې دی.

حضرت علي (رضي الله عنه) وایي: ترڅو چې زه قاضي وم، ماته په قضاء کې هېڅ شک نه دی پیدا شوی.

وکیع په خپل سند سره د ابو رافع څخه نقلوي چې کله رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) حضرت علي یمن ته د قضاء دندې لپاره ولېږه، نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د هغه سینه مسحه کړه او ویې ویل: « اللهم اهدِ قلبه، وثبِّت لسانه، وأعطِه فهم ما یُخاصم الیه فیه» [أخبار القضاء لوکیع الضبي البغدادي، ٨٦/١، د مړینې نېټه- ٢٠٦هـ]

یعنې اې څښتنه! دده زړه په حقه لار روان کړې، ژبه یې محکمه کړې او د هغه شخړو په اړه چې دی یې په اړه پرېکړه کوي پوره فهم او آګاهي ورکړې.

قدرمنو لوستونکو! د حضرت علي (رضي‌الله عنه) ځینې پرېکړې به دده په زمانه کې د قضاء په بحث کې راشي.

**٢- معاذ بن جبل (رضي‌الله عنه)**

معاذ بن جبل (رضي‌الله عنه) د صاحب القرآن (د قرآنکریم له تکړه علماوو) څخه ګڼل کېږي چې په دې اړه عبدالله بن عمرو (رضي‌الله عنه) وایي، رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) وفرمایل: قرآنکریم له څلورو کسانو څخه زده کړئ، د ابن مسعود، ابی بن کعب، معاذ بن جبل او د ابو حذیفه ازاد شوي غلام سالم څخه.

او همدارنگه سهل بن ابي حثمه د خپل پلار څخه روایت کړی دی، هغه کسان چې په نبوي دوره کې یې فتواوې ورکولې له مهاجرینو څخه عمر، عثمان، علي وو او له انصارو څخه ابی بن کعب، معاذ بن جبل او زید بن ثابت (رضي‌الله عنهم) وو.

حسن رحمه الله وايي: کله چې معاذ (رضي‌الله عنه) ته مرګ راورسېد، يو چا ورته وويل په داسې حال کې ته ژاړې چې ته د رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) ملګرى پاتې شوى يې؟ او ته دا او هغه ځانګړتياوې لرې؛ معاذ (رضي‌الله عنه) ورته وويل، زه په دې نه ژاړم چې ماته مرګ راغلی او د مرګ سختۍ نشم زغملی او يا دنيا راڅخه پاتې کېږي هغې ته خپه اوسم؛ بلکې دلته مرګ او روح اخيستلو کې دوه حالته (د نېکانو روح او د بدکارانو روح) وي، نه پوهېږم چې زه به له کوم يوه څخه يم. [اسد الغابة۱۷۸/۵]

معاذ بن جبل (رضي‌الله عنه) ډېر فضايل لري، پيغمبر (صلی‌الله علیه وسلم) نوموړی يمن ته د ښوونکي، لارښوود او قاضي په توګه ولېږه، هغه ته يې ليک روان کړ.

په (اکمال تهذيب الکمال) کې له ابي نجيح څخه روايت دی چې: پيغمبر (صلی‌الله علیه وسلم) د معاذ د لېږلو پر مهال د يمن خلکو ته وليکل: ما خپل غوره اهل تاسو ته ولېږه.

د «استيعاب» په نوم کتاب کې راغلي: پيغمبر (صلی‌الله علیه وسلم) هغه يمن ته د قاضي په حيث ولېږه او هغه ته يې د يمن له عمالو (زکات ټولوونکو) څخه د صدقې ټولولو دنده ورکړه، رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) يمن په پنځو کسانو وېشلی و: خالد بن سعيد يې صنعاء، مهاجر بن ابي اميه يې کنده، زياد بن لبيد يې حضرموت، معاذ بن جبل يې لشکر او ابو موسی يې زبيد، عدن او ساحل ته انتخاب کړي وو.

د الله تعالی په مال کې معاذ بن جبل (رضي‌الله عنه) لومړی سوداګر و او پکې بريالی هم شو، تر هغه وخته چې د خدای رسول (صلی‌الله علیه وسلم) رحلت وکړ، کله چې معاذ بن جبل (رضي‌الله عنه) راستون شو، نو عمر (رضي‌الله عنه) ابوبکر (رضي‌الله عنه) ته وويل: د هغه سړي څنګ ته يې ولېږه او د ژوند د اړتيا وړ شيان ورته پرېږده او نور ټول ترې واخله؛ ابوبکر (رضي‌الله عنه) وويل: پيغمبر (صلی‌الله علیه وسلم) هغه لېږلی و او زه له هغه هېڅ شی نه اخلم، مګر په هغه صورت کې چې دی يې په خپله راکړي، کله چې ابوبکر (رضي‌الله عنه) له هغه څخه اطاعت ونکړ، نو عمر په خپله د هغه څنګ ته لاړ.

او موضوع يې ورسره شريکه کړه، معاذ وويل: پيغمبر (صلی‌الله علیه وسلم) زه هغه ځای ته لېږلی وم، ترڅو له غريبۍ خلاص شم او زه دا کار نه کوم.

ورپسې معاذ (رضي‌الله عنه) د عمر (رضي‌الله عنه) څنګ ته راغی وويل، ما ستا اطاعت وکړ او ستا امر مې پر ځای کړ؛ دا ځکه چې ما خوب وليد چې په ډېرو اوبو کې يم او ډارېږم چې په اوبو کې غرق نشم؛ اې عمره ته مې له دې اوبو څخه وژغوره.

معاذ (رضي‌الله عنه) ابوبکر (رضي‌الله عنه) ته راغی او دا هر څه يې ورته بيان کړل او قسم يې ياد کړ چې هېڅ شی نه پټوي، ابوبکر (رضي‌الله عنه) وويل، زه له تا هېڅ شی نه اخلم او هغه مې تاته بخښلي دي.

عمر (رضي‌الله عنه) وويل، دا کار غوره دی؛ ځکه مال حلال او پاک شو، وروسته معاذ شام ته لاړ او عمر (رضي‌الله تعالی عنه) د ابو عبيده له وفات وروسته هغه د شام لپاره مسؤول مقرر کړ او رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) د قضاء او فيصلې کولو طريقه وروښودله چې ياد روايت احمد په خپل مسند سره د معاذ (رضي‌الله عنه) له ملګرو څخه نقل کړی دی، چې کله نبي کريم (صلی‌الله علیه وسلم) دی يمن ته لېږه، نو ورته وويل: « فيصله به څنګه کوې؟» معاذ (رضي‌الله عنه) وويل: زه به فيصله د الله تعالی په کتاب (قرآنکريم) کوم، بيا نبي کريم (صلی‌الله علیه وسلم) وويل:«که قرآنکريم کې نه وه؟»، معاذ وويل: بيا د رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) په سنتو (احاديثو) فيصله کوم، بيا نبي کريم (صلی‌الله علیه وسلم) وويل:«که د رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) په سنتو کې نه وه؟» معاذ وويل: بيا په خپل اجتهاد سره.

راوي وايي چې رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) وويل: «هغه الله تعالی لره دې حمد وي، چې د خپل پيغمبر (صلی‌الله علیه وسلم) د استازي (رايه) يې موافقه کړه.

معاذ (رضي‌الله عنه) په بېلا بېلو قضيو کې پرېکړې او حکمونه کړي دي، چې له هغو جملې څخه يو د اسود په روايت کې راغلی، وايي: «معاذ (رضي‌الله

عنه) زموږ په اړه د رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) په زمانه کې پرېکړه وکړه، چې (نیمه برخه د لور او نیمه د خور لپاره ده)». [رواه البخاري، شمېره:۶۸۴۱]
او معاذ (رضي‌الله عنه) د ابوبکر صدیق (رضي‌الله عنه) خلافت پورې یمن کې پاتې شو او کله چې عمر فاروق (رضي‌الله عنه) خلیفه وټاکل شو، نو بېرته مدینې منورې ته را ستون شو او د جهاد میدان ته یې ور ودانګل، شام کې له اسلامي لښکر سره یوځای شو او کله چې أبو عبیده (رضي‌الله عنه) د عمواس په طاعون مبتلاء شو، نو معاذ (رضي‌الله عنه) یې ځای ناستی وټاکل شو او د عمر (رضي‌الله عنه) لخوا منظور شو، نو په همدغه کال یې د مرګ داعي ته لبیک هم ووایه.
إنا لله وإنا إلیه راجعون

**۳- ابو موسی اشعري (رضي‌الله عنه):**

اصلي نوم یې عبدالله، د قیس زوی او د سلیم لمسی دی، له قحطان قبیلې سره تعلق لري او په خپل اسم کنیه (أبو موسی اشعري) باندې مشهور دی، نوموړی صحابي قاضي او د زړورو واکمنانو او فاتحینو له جملې څخه و، د صفین په جګړه کې د علي او معاویه (رضي‌الله عنهما) ترمنځ د دوو فیصله کوونکو څخه یو دی و.
په ۶۰۲ زېږدیز کال کې د یمن په زبید سیمه کې زېږېدلی او له خپلو ورونو سره یې په یو کاروان کې هغه وخت مکې مکرمې ته تشریف راوړ چې اسلام ظهور کړی و او هلته په اسلام مشرف شو او بېرته خپل هېواد ته ستون شو، تر هغه خپلې سیمه کې پاتې شو چې د خیبر د فتحې پر مهال دی او له اشعرینو څخه ځینې کسان رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) ته راغلل او رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) د زبید، عدن او یمن ساحلي سیمو لپاره وټاکه، ترڅو خلکو ته قرآنکریم ور زده کړي او ترمنځ یې پرېکړې وکړي او کله چې رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) رحلت وکړ، بېرته مدینې منورې ته راغی او بیا یې د شام او عراق په فتحو کې ګډون وکړ.
عمر (رضي‌الله عنه) بیا پر کوفه او له هغه وروسته د واکمن، ښوونکي او قاضي په توګه د بصرې مسؤولیت ورکړ او ده ته یې د قضاء اړوند خپل مشهور لیک ور ولېږه او په ۲۳ هجري کال کې یې اصفهان او اهواز ښارونه فتحه کړل او عثمان (رضي‌الله عنه) د بصرې واکمن وټاکه، بیا یې ګوښه کړ او بېرته یې راوست او علي (رضي‌الله عنه) بیا وټاکه او څه موده وروسته یې بېرته ګوښه کړ او تر هغه وخت په کوفه کې اوسېده ترڅو په ۴۴ هجري (۶۶۵ زېږدیز) کال کې وفات شو.
په صحیح بخاري او نورو کتابونو کې له ابوموسی څخه روایت دی چې وویل: زه په داسې حال کې چې له اشعره وو څخه دوه کسان ـــ یو مې راسته لوري او بل کیڼ لوري ته وو ـــ پیغمبر (صلی‌الله عیله وسلم) ته ورغلم، داسې مهال چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مسواک واهه، هغه دوو کسانو (د دندې) غوښتنه وکړه، پیغمبر (صلی‌الله علیه وسلم) وویل: اې ابوموسی، یا اې عبدالله بن قیس! ومې ویل: په هغه ذات مې دې قسم وي چې ته یې په حقه رالېږلی یې چې زه په هغه څه نه وم خبر چې د دوی په زړه کې وو او ما داسې احساس نه کاوه چې دوی د یوه کار غوښتنه کوي، ګویا چې ما یې تر شونډو لاندې مسواک ته کتل چې شونډه مبارکه یې پورته شوه، وروسته رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) وویل: «هېڅکله نه، یا یې وویل: موږ هغه څوک په کار نه ګمارو چې دی یې غوښتنه وکړي، خو اې ابوموسی یا اې عبدالله بن قیسه! ته یمن ته لاړ شه؛ وروسته یې معاذ بن جبل (رضي‌الله عنه) ورپسې ولېږه، دا چې نوموړي ته ورغی، بالښت یې ورته کېښود او وویل، راځه کښېنه، دغه مهال یې ولیدل چې له نوموړي سره یو کس دی، معاذ (رضي‌الله عنه) وویل: دا څوک دئ؟ هغه وویل: دا یهودی و، اسلام یې قبول کړ او وروسته بېرته یهودي شو، ابو موسی اشعري (رضي‌الله عنه) وویل، کښېنه، هغه وویل: ترڅو دغه سړی ونه وژل شي نه کښېنم، دا د الله تعالی او د هغه د رسول (صلی‌الله عیله وسلم) امر دی، هغو دوو صحابوو درې ځله دا خبره تکرار کړه.
وروسته د یهودي د قتل حکم وشو او هغه ووژل شو، ورپسې دوی د قیام اللیل یادونه وکړه او د دوی یوه تن وویل: زه د تهجد لمونځ کوم او ویده کېږم، هیله لرم هغه اجر چې له قیام اللیل حاصلوم له خوب هم حاصل کړم.

**نور بیا...**



# د اسلامي امارت
# اړتیا او د بقاء اسباب

مفتي شعیب (الحنفي)[1]

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ». [سورة النور ٥٥]

وفي الحديث عن حذيفة (رضی الله عنه) قال قال رسول الله (صلی الله علیه وسلم) تكون النبوة فيكم ماشاء الله ان تكون ثم رفعها اذا شاء ان يرفعها ثم يكون خلافة على منهاج النبوة فتكون ماشاءالله ان تكون ثم يرفعها اذا شاء ان يرفعهاثم يكون ملكا عاضا فيكون ماشاء الله ان يكون ثم يرفعها اذا شاء ان يرفعها ثم تكون ملكاجبريا فتكون ماشاء الله ان تكون ثوم يرفعها اذا شاء ان يرفقها ثم تكون خلافة على منهج النبوة ثم سكت.[مسندالامام أحمد بن حنبل١٨٤٠٦]

**د خلافت معنی**

خلافت په لغت کې د خلف یخلف باب څخه مصدر دی په وزن د کتب یکتب نه معنی الخلف ضد القدام او په اصطلاح کې الامامة الموضوعة لخلافة النبوة فی حراسة الدین وسیاسة الدنیا.

ژباړه : خلافت وضع شوی دی لپاره د خلافت نبوي په ساتلو د دین کې او په سیاست د دنیا کې.

**خلافت کله را منځته شو؟**

د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم ) له وفات سره سم د حضرت ابوبکر صدیق (رضی الله عنه) په خلیفه کېدو د خلافت راشده نظام رامنځته شو، تر۴۰ کاله د راشدینو خلفاوو نظام پرځای پاتې شو او د یو لړ طبیعي اسبابو له امله په کال ٤١ هجري کې خلافت د بنو امیه کورنۍ ته انتقال شو ـــ هغه وخت کله چې د حضرت حسن (رضی الله عنه ) سره د سولې نه وروسته حضرت معاویه ( رضي الله عنه ) د خلافت واګې په لاس کې واخیستې ـــ اموي خلافت تر ١٣٢ هـ ق کال پورې دوام پیدا کړ، کله چې په همدې کال د دې کورنۍ وروستي خلیفه ـــ مروان بن محمد ـــ د عباسیانو په لاس ماتې وخوړه؛ نو خلافت د بنو العباس کورنۍ ته منتقل شو او ابو العباس السفاح د چارو واګې په لاس کې واخیستې، عباسي خلافت په بغداد کې د ٦٥٦ هـ ق کال تر۳۰محرم الحرام میاشتې چې د ١٢٥٨م کال د فبروري میاشتې سره برابره ده، په بغداد باندې د مغولو د قبضې تر وخته پورې قایم و، کله چې په همدې کال په بغداد کې د خلافت د سقوط حادثه رامنځته شوه په مسلمانانو دا حالت

---

۱- د کونړ مرافعه محکمې د مدني دیوان مفتي

دومره سخت او ستونزمن و چې په هېڅ ډول ورته د تحمل وړ نه و؛ ځکه چې مسلمانانو په هېڅ ډول دا تصور هم نشو کولای چې دا دنیا دې د اسلامي خلافت له وجود څخه پرته قائمه پاتې شي، ابن الاثیرچې د هغه وخت یو لوی مؤرخ دی، په دې اړه وایي: فلوقال قائل : ان العالم مذ خلق الله سبحانه وتعالی آدم ، والی الآن ، لم یبتلوا بمثلها ، لکان صادقاً فان التواریخ لم تتضمن مایقاربها ولامایدانیا

ژباړه: که څوک ووایي له کومې ورځې څخه چې الله (جل جلاله) په دې دنیا کې آدم ( علیه السلام ) پیدا کړی دی په داسې مصیبت تر اوسه پورې نه ده مبتلا شوې؛ نو خبره به یې سمه وي،ځکه هېڅ تاریخ د دې په څېر د کومې حادثې د یادونې څخه خالي نه دی.

له دې وروسته مسلمانانو د خلافت د بیا اعادې لپاره کوښښونه پیل کړل چې په پایله کې لومړی د عین جالوت د معرکې اتل سلطان قطز چې په مصرکې د ممالیکو یو قدرتمند حاکم و، بیا د سلطان الظاهر بیبرس چې د قطز د وژلو نه وروسته یې د چارو واګې په لاس کې واخیستې د مغلو له ماتې څخه یوازې څو کاله وروسته په خپلو کوښښونو بېرته په ۱۲۶۱م کال د مصر په قاهره کې عباسي خلافت را ژوندی کړ او دغه خلافت تر ۱۵۱۷م کال پورې دوام وکړ.

کله چې سلطان سلیم اول عثماني په همدې کال د ممالیکو اخري پادشاه (قنصوي غوري) ته د (الریدانیه) په جنګ کې ماتې ورکړه، د ممالیکو حکومت یې پای ته ورساوه او د قاهرې (مصر) د عباسیانو وروستی خلیفه المتوکل علی الله درېیم یې له ځان سره استنبول (استاني) ته یووړ او په دې توګه د عباسي خلافت دویم پړاو هم پای ته ورسېد او پر ځای یې عثماني خلافت د اسلامي امت قیادت په غاړه واخیست، د ۱۹۲٤م کال د مارچ تر درېیمې نېټې یې دوام پیداکړ او هغه مهال یې سقوط وکړ چې د غرب په لاسونو کې د لوبېدونکې او د هغوی د یو مزدور، بې دینه او اسلام دښمن شخص چې د مؤرخینو غالب ګمان پرې دا دی چې د دونما د یهودو له جملې څخه و او مصطفی کمال نومېده په همدې کال او همدې ورځ د سلطان (عبدالمجید دویم ) خلافت ملغی اعلان کړ او پر ځای یې نوی ترکي جمهوریت اعلان کړ.

**د امیر ټاکنه**

جمهور مسلمانان په دې اند دي چې خلیفه ټاکنه یعنې په امت کې ګمارنه د اسلامي شریعت له مخې واجب ده؛ د وجوب دلایل یې په لاندې توګه دي.

۱- د خلیفه په ټاکلو باندې د صحابه کرامو اجماع ده، تر دې چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له وفات وروسته د هغه د خښولو ترمخه یې د بیعت چاره مقدمه کړه.

۲- د حدودو پلي کول او د سنګرونو ساتل یوازې د خلیفه په ټاکلو سره کېږي او دا قاعده ده چې (مالایتم الواجب الابه فهوواجب) په کوم شي سره چې واجب پوره کېږي هغه شی هم واجب دی.

۳- په خلیفه ټاکنه کې د ګټو خوندیتوب او د زیانونو مخنیوی نغښتی او دا ډول چاره بالاجماع واجب ده.

٤- د مسلمانانو یوه ډله دا خبره هم کوي چې د خلیفه ټاکنه د عقل له مخې هم واجب ده؛ ځکه هر امت یو داسې چاته اړتیا لري چې د هغوی د قوانینو څارنه او د هغوی د افرادو اداره وکړي، یا دا چې د حاکم موجودیت د بشري ټولنې د اړتیاوو څخه یوه ارزښت لرونکې اړتیا ده؛ که پورته دواړو نظرونو (عقل او نقل) ته وګورو نو دې پایلې ته رسېږو چې دواړه رایې خپل منځ کې سره ټکر نلري او دواړه سمې دي، هغه دا چې دواړه رایې (عقل او نقل) په دې خبره متفق دي چې باید یو داسې څوک موجود وي چې هغه قوانین پلي کړي او د خلکو ساتنه وکړي البته عقل مطلق مشر غواړي او شریعت د یو اوچت شان والا شخص غواړي داسې مشر چې هغه په دکتاتوري او زور سره مشري نه غواړي؛ بلکې د امت بیعت ورسره وي، بنأً اسلامي شریعت هم د عقل له افرادو څخه یو کامل او پوره شخصیت غواړي.

امام ابن خلدون (رحمه الله ) په خپله مقدمه کې داسې لیکلي دي: داسې کمو خلکو ویلي چې نه د شریعت په اساس او نه هم د عقل په واسطه د اسلامي خلیفه ټاکنه

واجب ده چې یو له دغه کسانو څخه اصم معتزلي او ځینې خوارج دي.

د دوی په اند د شرعي احکامو تنفیذ واجب دی، دوی وايي کله چې ټول امت په دغه خبره متفق شي چې عدل او د الله (جل جلاله) احکام به منو؛ نو بیا د خلیفه ټاکلو ته څه اړتیا پاتې نه شوه، خو دا خبره دوی ځکه کوي چې د دوی په مذهب څوک حمله ونه کړي او دوی له ملک او هېواد څخه ونه باسي.

لنډه دا چې عام علماء په دې خبره په یوه خوله دي چې مسلمانان باید یو لوی امامت او اوچت ریاست ولري چې د هغه چاپېره به د امت کلیمه را څرخي د هغوی یووالی او ارادې به تمثیلوي.

**د امارت حکم :**

یوازې امارت هغه حکومتي نظام دی چې الله رب العالمین فرض کړی دی او داسې فرض دی لکه څرنګه چې لمونځ فرض دی او دا خبره هېڅ پټه نه ده.

امارت د مسلمانانو په خاوره کې تر(۱۳۰۰) کلونو ډېر عمر درلودلی دی، چې مؤمنان به وربانديې خوشحاله وو، عزت او ځواک به یې وربانديې ترلاسه کاوه.

څرنګه چې عمل فرض دی او د اور څخه د خلاصون سبب هم دی، همدارنګه امام او مشر سره بیعت کول هم فرض دی، لکه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: من خلع یدا من طاعة لقي الله یوم القیامة لاحجة له ومن مات ولیس في عنقه بیعة مات میتة جاهلیة.

ژباړه : څوک چې د الله (جل جلاله) له اطاعت څخه لاس په سر شي د قیامت په ورځ به له الله (جل جلاله) سره په داسې حال کې مخ کېږي چې هېڅ دلیل به ورته نلري، څوک چې مړ شي او د بیعت کړی (رسی) یې په غاړه کې نه وي هغه د جاهلیت په مرګ مړ شوی دی، دلته بیعت له خلیفه پرته د بل چاسره نه کېږي او د جاهلیت مړینه له لویو ګناهونو څخه هغه ګناه ده چې ټول هغه کسان په کې واقع شوي کوم چې د خلافت لپاره عمل نه کوي؛ خو دیموکراتیک دولت یو سیکولر جوړښت دی چې غرب او کفارو رامنځته کړی، دین له دولت څخه بیلوي او د بشر لپاره خلک په کې د رب البشر په ځای حکومت کوي، حلال حراموي او حرام حلالوي، مباح منعه او منعه مباح ګرځوي، د الله (جل جلاله) له کتاب او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د سنتو د پوښتنې په ځای له خلکو څخه پکې پوښتنه کېږي.

که یو شخص دارنګه پوښتنه وکړي چې د حضرت عثمان (رضي الله عنه) ټاکنه څرنګه وشوه؟

په ځواب کې به ووایو چې لومړی خو حضرت عمر(رضي الله عنه) شپږ کسه د صحابه کرامو چې هغه فقهاء او سیاسي اشخاص وو وټاکل او ورته یې امر وکړ چې ضرور باید تاسې له خپل منځ څخه یو شخص خلیفه ونوموئ، چې په دغه شپږو کسانو کې حضرت عثمان (رضي الله عنه) او حضرت علي (کرم الله وجهه) دواړه موجود وو، دغه شپږو صحابه کرامو حضرت عثمان او حضرت علی (کرم الله وجهه) ونومول بیا د هغه په اړه د ټولو صحابه کرامو څخه د هغوی د نظر غوښتنه وشوه د ډېری صحابه کرامو نظر د حضرت عثمان (رضي الله عنه) په اړه و.

خو اصلي مطلب دا دی چې حضرت عثمان (رضي الله عنه) د بیعت په اساس باندې خلیفه ګرځول شوی و او بل دا چې صحابه کرام ټول د رایې اهل وو؛ خو په نړیوالو ترونونو باندې عمل کول هغه څه دي چې د مسلمانانو حقوق پکې ضایع شوي، ځمکې یې پکې غصب شوې، د کفارو واکمني وربانديې حاکمه شوې، نو دا یوه لویه بې پردې ګناه ده او په دنیا کې د سپکاوي او ذلت پراخه دروازه ده او خامخا ورسره د الله (جل جلاله) تر دې لوی عذاب شته دی.

فکر وکړئ چې له اسلامي شریعت پرته بل هېڅ حکومت د منلو وړ نه دی؛ ځکه چې الله (جل جلاله) په خپل کتاب کې فرمایلي دي: فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا [النساء ٦٥]

نو راځئ د اسلامي امارت سره یوځای شو او د اسلامي ژوند د بیا تأسیس په لاره د نبوت پر تګلاره د دویم

راشده خلافت د قایمولو لپاره مبارزه وکړو او د خپل امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي هبة الله آخندزاده (حفظه الله) سره بیعت وکړو چې په ټولو شرعي مسایلو کې په ما انزل الله باندې عمل کوي او موږ او تاسې ورته د ثبات دعا کوو.
موږ به د اسلامي امارت ساتنه کوو او تر شا به یې کلک درېږو؛ ځکه چې نبي کریم (ﷺ) فرمایلي دي (وانما الامام جنه یقاتل من ورائه ویتقي به).
همدارنگه علامه ابو یعلي الفراء (رحمه الله ) ذکر کوي چې د امیر وجوب ولې اړین دی د دې لپاره چې د دې لاندې عرضونو ساتنه وشي.
۱- حفظ الدین (د دین ساتنه).
۲- تنفیذ الاحکام بین المتشاجرین (د متخاصمینو ترمنځ احکام نافذول).
۳- حمایة البیضة والذب عن الحوزة (د خپل عرضي تمامیت څخه دفاع کول).
٤- اقامة الحدود (د حدودو نافذول).
٥- تحصین الثغور باالعدة المانعة القوة الدافعة (د سرحداتو ساتنه او دفاعي ځواک تیارول).
٦- جهاد من عاند الاسلام بعد الدعوة (جهاد کول د هغه چا سره چې پس د دعوت نه د اسلام سره عناد کوي).
۷- جبایة الفیء والصدقات علي ما أوجبه الشرع (راجمع کول د فيء او د صدقاتو په هغه طریقې چې شریعت واجب کړي وي).
۸- تقدیرالعطاء ومایستحق في بیت المال من غیرسرف ولاتقصیرفیه (له بیت المال څخه مستحقو کسانو ته له کمي او زیاتي پرته د ډالیو مقررول).
۹- استکفاء الامناء وتقلید النصحاء فیما یفوضه الیهم تعیین الموظفین (باور کول په امینانو او خبره منل د نصحاء په هغه څه کې چې دی یې هغه ته سپاري).
۱۰- ان یباشر بنفسه مشارفة الامور وتصفح الاحوال (چې په خپل بنفسه کارونه گوري او احوال به څېړي).

**د امیر د وجوب شرطونه :**

امام ابوالحسن الماوري (رحمه الله ) په خپل کتاب الاحکام السلطانیه کې لیکلي دي د مسلمانانو په امام کې باید لاندې شرطونه موجود وي.
۱- عدالت : په ټولو شرطونو سره.
۲- شرعي علم چې د احکامو د حل اجتهاد ولري.
۳- د حواسو روغتیا لکه: اورېدل، لیدل، غږېدل ترڅو د لیدنې په وخت کې پوره ادراک وکړي.
٤- له عیب څخه د اندامونو روغوالی، چې پوره حرکت وکولای شي او له غورځېدلو په امن وي.
٥- د سالمې رایې خاوند به وي چې خپلو وگړو ته د مصلحتونو په تدبیر کې رسېدنه وکړای شي.
٦- زړورتوب: چې د د ښمنانو پر ضد جهاد وکړي او توره را وباسي.

**اسلامي امارت د بقاء اسباب:**

باید لاندې اوو چارو ته پابند اوسي:
- عبادة الله وحده (صرف د یوه الله جل جلاله عبادت کول).
- رد الشرک.
- اقامة الصلاة.
- اعطاء الزکوة.
- امربالمعروف.
- نهی عنی المنکر.
- اتباع رسول الله (صلی علیه وسلم) چې دا اووه واړه ته قرآن کریم په سورة الحج ایت نمبر٤١ اوپه سورت نورایت نمبر ٥٥ او ایت نمبر٥٦ ذکرکړي دي.

**اسلامي امارت د حصول اسباب:**

اول سبب الایمان با الله تعالی، دویم سبب عمل صالح کول، درېیم سبب عبادة الله، څلورم سبب د شرک نه ځان ساتل، پنځم سبب الاصلاح ضد الفساد، شپږم سبب جهاد في سبیل الله چې د قرآن کریم په سورة الانبیاء ایت نمبر(۱۰۵) کې الله تبارک ذکرکړی دی.

# سلسلۀ مباحث قضاء

مفتی محمد حسین کوثری[1]

## مرور زمان

### بحث اول

در حل و فصل قضایای حقوقی بحث مرور زمان اهمیت خاصی دارد، که لازم است قضات محترم به آن توجه داشته باشند، اگر نه فیصله های شان مواجه به نقض خواهد بود. بسیاری از محاکم تحتانی در مورد مرور زمان تحقیق نمی کنند و نه به کلام مدعی علیه در این راستا توجه می کنند.

وقتیکه مدعی دعوی خود را در محضر قضاء در حضور خصم اقامه نمود و قاضی محسوس نمود، که دعوی مدعی از جمله حقوق دیرینه هست، باید تحقیق کند که آیا در دعوی مدعی مسئلۀ مرور زمان متحقق است یا خیر؟ قاضی در این راستا تحقیق خود را میتواند بر برداشت خود بناء کند، چون امر سلطانی است و میتواند که بعد از دفع مدعی علیه بمرور زمان تحت تحقیق و غور قرار بدهد، اگر در اثر غور و تحقیق معلوم شد، که مدعی ۱۵ سال قمری یا اضافه از پانزده سال بالای مدعی علیه اقامه دعوی نکرده است، پس قاضی بعدم سمع دعوی مدعی اصدار حکم میکند و موضوع خاتمه می یابد چنانچه ماده ۱۶۶۰ و ۱۶۶۳ مجلة الاحکام حکم دارد. البته بعد از متحقق شدن ۱۵ سال قمری لازم است از مدعی بپرسد، که برای عدم اقامه دعوی کدام عذر شرعی دارد یا خیر؟ اگر عذر شرعی داشت و مدعی علیه آنرا قبول داشت، دعوی جریان پیدا میکند، اگر عذر مدعی را مدعی علیه قبول نداشت، لازم است محکمه حاکمه برای اثبات آن عذرش از مدعی طلب بینه کند. بسیاری اوقات محاکم تحتانی در مورد مرور زمان تحقیق میکنند، بعد از ثبوت آن بعدم سمع دعوی اصدار حکم میکنند، مگر در مورد اعذار مدعی تحقیق نمی کند که در چنین صورت فیصله مواجه به نقض میگردد.

**مرور زمان در کدام موضوعات مد نظر گرفته میشود:** موضوع مرور زمان در دعاوی حقوق خاصه مثل دعوی دین، امانت، زمین، حق الارثی، دعوی ملک، دعاوی اجاره در املاک وقف و هر آن موضوعیکه به اصل وقف و حقوق عامه متعلق نباشد، بعد از ۱۵ سال قابل سمع نیست. اگر نزد قاضی ثابت شد که در موضوعات مذکوره مدعی ۱۵ سال قمری اقامه دعوی نکرده و عذر شرعی هم نداشته؛ بعدم سمع دعوی مدعی حکم میکند.

---

۱- عضو مفتی دیوان مدنی تمیز مرکزی ستره محکمه

**در کدام موضوعات مسئله مرور زمان مطرح نیست:** در دعاوی حقوق عامه مثل مرعی، راه و دعوی در اصل املاک وقفی دعوی مدعی و متولی وقف با وجود مرور ۱۵ سال قابل سمع و جریان میباشد، در این جا یک وضاحت لازم است، که یک دعوی اصل وقف است و دعوی دیگری فرع وقف دعوی اصل وقف دعوی ملکیت زمین موقوفه است، که با وجود مرور ۱۵ سال دعوی قابل سمع میباشد و دعوی فرع وقف مثل اجاره زمین موقوفه، اجرهٔ ناظر وقف و اجرهٔ عمال زمین های موقوفه که آن بعد از ثبوت مرور زمان قابل سمع نمی باشد.

**دعوی شفع:** در دعوی حق شفع وقتیکه مدعی دعوی خصومت را اضافه تر از یک ماه ترک کند، دعوی حق الشفع او قابل سمع نیست.

**در مرور زمان سنه قمری اعتبار دارد :** در مرور ۱۵ سال سنهٔ قمری اعتبار دارد، نه سنه شمسی و میلادی الا اینکه امیر به سنه شمسی حکم کند، در حال حاضر چون تمام امورات دولت و فرمان های مقام محترم عالی رهبری امارت اسلامی افغانستان به حساب تاریخ هجری قمری صادر میگردد؛ بناء در تمام محاکم کشور ۱۵ سال به سنهٔ هجری قمری حساب میشود، نه سنهٔ هجری شمسی و بین ۱۵ سال قمری و شمسی ۱۵۰ روز که ۵ ماه میشود، تفاوت است.

**چرا ۱۵ سال :** قاضی صلاحیت قضاء را از امام میگیرد و امام به قضات محاکم صلاحیت عام و تام نمی دهد، بلکه بعض قضات را به زمان و مکان مقید نموده است، بعض را به موضوعات مشخص مقید ساخته است، اما جمیع قضات کشور را ملزم ساخته است که در موضوعات دیرینه که مرور زمان ثابت شد دعوی را سمع نه کنند، پس ۱۵ سال امر امیر المؤمنین (حفظه الله تعالی) است، به همین خاطر در صورت مرور زمان به قضاء ترک و یا قضاء الزام حکم کردن درست نیست، تنها بعدم سمع دعوی حکم میشود، چون قاضی محکمه حاکمه صلاحیت استماع دعاوی را از طرف امام ندارد و امام برایش این صلاحیت را نداده است. پس اگر دعوی را استماع کند و بر آن حکم صادر کند، در ساحه صلاحیت حوزوی او قرار نداشته حکمش باطل دانسته میشود. چنانچه ماده ۱۸۰۱ مجلة الاحکام تصریح دارد.

**کدام عذر ها مرور زمان را قطع میکند:** قبلا ذکر نمودیم مرور زمان متحقق شد، دعوی قابل سمع نمی باشد، مگر بشرطیکه مدعی عذر شرعی نداشته باشد اگر عذر شرعی داشته باشد، آنرا ثابت ساخت دعوی سمع میشود و تحت جریان قرار میگیرد. اعذاریکه مرور زمان را قطع میکند، بعضی آن در ماده ۱۶۶۳ مجلة الاحکام توضیح داده شده است:

**(۱) مدعی صغیر باشد:** اگر مدعی صغیر بود، ولی داشته باشد یا نداشته باشد مدت صغارت آن در عذر داخل است و اگر بعد از بلوغ تا ۱۵ سال اقامه دعوی نکرد؛ دعوی اش قابل سمع نمی باشد.

**(۲) مدعی مجنون باشد:** اگر مدعی مجنون باشد، ولی داشته باشد یا نداشته باشد تا حین افاقه از جنون در عذر شرعی داخل است و مرور زمان را قطع میکند.

**(۳) مدعی معتوه باشد:** کسیکه کلام اش بین کلام عقلاء و کلام مجانین مختلط باشد، گاهی بکلام عقلاء سخن میگوید و گاهی بکلام مجانین تا حین افاقه در عذر شرعی داخل است.

**(۴) سفر:** اگر مدعی و یا مدعی علیه از وطن اصلی به اندازه مدت قصر مسافر باشند، این هم در عذر شرعی داخل است و مرور زمان را قطع میکند، در افغانستان بعد از انقلاب کمونست ها اکثریت مردم افغانستان به هجرت و سفر مبتلا گردیده اند، که لازم است قضاة محترم به آن توجه خاص داشته باشند، تا حق کسی ضایع نگردد.

**(۵) تغلب جانب مقابل:** اگر مدعی علیه از جمله متغلبه باشد و مدعی نمی توانست که با او دعوی خود را پیش ببرد؛ از مضرت او ترس داشت پس این یک عذر شرعی دانسته میشود، موضوع تغلب جانب مقابل در افغانستان در سالها انقلاب بسیار مطرح بوده، قومندانان و زورمندان با استفاده از هرج، مرج و ضعف حکومت مرکزی اموال منقول و غیر منقول مردم را تحت تصرف

خود و اقارب خود در آورده اند؛ با استفاده از سلاح دست داشته شان مالکین را تهدید به مرگ و یا ضرب میکردند، که لازم است قضات محترم حالات سالهای انقلاب را به دقت کامل مد نظر بگیرند.

**(٦) عدم وجود قاضی:** اگر در یک منطقه قاضی ذو الحکم نباشد، در عذر شرعی داخل است.

**(۷)** سالهایکه مقام محترم عالی رهبری امارت اسلامی افغانستان آنرا در عذر شمرده است، قاطع مرور زمان میباشد که عبارت از ۱۴ سال دوره حکومت کمونست ها است، که از سال ۱۳۵۷هـ ش شروع میشود ۵ سال دوره حکومت ربانی و ۵ سال دوره اول حکومت حامد کرزی این مدت نیز در عذر شرعی داخل است و مقام محترم عالی رهبری امارت اسلامی افغانستان آنرا مستثنی قرار داده است.

**مرور زمان در دعوی دین مؤجل:** اگر مدعی بالای مدعی علیه دین مؤجل داشت، اجل آن ۱٦ سال باشد، در این صورت مرور زمان که مانع استماع دعوی میگردد بعد از حلول اجل شمرده میشود، اگر بعد از حلول اجل ۱۵ سال بگذرد دعوی مدعی قابل سمع نمی باشد و اگر مدت دین حلول نکند اگرچه ۱٦ سال بگذرد مانع استماع دعوی نمی گردد.

**دعوی مهر مؤجل:** اگر مهر مدعیه مؤجل باشد و معلوم الاجل باشد، مرور زمان از حلول اجل بشمار میرود، اگر معلوم الاجل نباشد از وقت وقوع طلاق بائن و یا از وقت مرگ احد الزوجین به حساب میرود، اگر بعد از طلاق بائن و یا از مرگ احد الزوجین ۱۵ سال بگزرد دعوی قابل سمع نیست.

**مطالبه دین از مفلس:** اگر کسی بالای مفلس که افلاسش در محکمه ثابت شده باشد حق داشت، مرور زمان از زمان زوال افلاس مفلس بشمار میرود، اگر بعد از زوال افلاس ۱۵ سال دعوی نکرد، دعوی مدعی قابل سمع نیست.

**در مرور زمان ترک دعوی مورث و وارث جمع میشود:** چنانچه در سابق گفتیم که اگر کسی ۱۵ سال بدون عذر شرعی ترک دعوی کند دعوی اش قابل سمع نیست؛ همچنان اگر یک مدت مورث مدعی ترک دعوی کند و فوت کند، بعد از فوت مورث، وارث آن یک مدت دعوی خود را ترک کند در این صورت هر دو مدت ترک دعوی با هم جمع میشود، اگر حاصل آن ۱۵ سال شد دعوی قابل سمع نمی باشد، مثلاً پدر ۱۰ سال دعوی اقامه نکرد، بعد از موت او پسرش ٦ سال اقامه دعوی نکرد هر دو مدت که جمع شود ۱٦ سال میشود، پس دعوی پسر بسبب مرور زمان قابل سمع دانسته نمی شود.

**اگر مدعی علیه اقرار نمود:** اگر مدعی علیه در محضر قضاء به حق مدعی اقرار صریح نمود، پس در این صورت نیز مرور زمان مطرح نمی باشد و تحت جزئیه فقهیه داخل میباشد که لایسقط الحق بتقادم الزمان.

مرور زمان بالای تحکیم و صلح مصلحین اثر ندارد: اگر در یک موضوع مرور زمان متحقق باشد، طرفین دعوی نزاع شانرا توسط حکمین و یا مصلحین حل و فصل نماید، مسئله مرور زمان در آن اثر ندارد. حکمین و مصلحین میتوانند که موضوع را جریان حل و فصل نمایند.

در صورتیکه مرور زمان ثابت گردیده قاضی تنها بعدم سمع دعوی حکم میکند، اکثر قضات محترم به قضاء ترک حکم شانرا صادر میکنند، که از طرف محاکم علیا نقض میشود چون قضاء ترک و قضاء الزام فرع صحت و سمع دعوی است، در حالیکه مرور زمان ثابت شود دعوی اصلا تحت جریان قرار نمی گیرد، پس حکم به قضاء ترک و قضاء الزام درست نیست.

**اگر بین طرفین در مورد سالهای ترک دعوی اختلاف بروز کند:** اگر بین طرفین در مدت سالهای ترک دعوی اختلاف بوجود بیاید مدعی علیه بگوید؛ که مدعی اضافه از ۱۵ سال اقامه دعوی نکرده است و مدعی بها اضافه از ۱۵ سال در ذو الیدی بنده بدون نزاع قرار دارد، مدعی بگوید که مدعی بها از مدت ۱۰ سال در ذو الیدی مدعی علیه قرار دارد، در این صورت محکمه حاکمه باید موضوع را از باب ترجیح البینات حل و فصل نماید. اول از مدعی مرور زمان که مدعی مدت اکثر است طلب اقامه بینه کند، اگر توسط شهود

ثابت ساخت که مدعی بها اضافه از ۱۵ سال در ذو الیدی او بدون نزاع قرار دارد، قاضی بعدم سمع دعوی حکم نماید و اگر مدعی مرور زمان از اقامه بینه عاجز ماند محکمه حاکمه از جانب مقابل که مدعی مدت اقل است طلب اقامه بینه نماید، اگر توسط شهود ثابت ساخت قاضی حکم به عدم مرور زمان نموده و موضوع را تحت جریان قرار میدهد، اگر مدعی اقل مدت نیز از اقامه بینه عاجز شد، پس به طلب مدعی مرور زمان به جانب مقابل قسم راجع میشود.

مثال: در آخر غرض وضاحت بیشتر یک مثال واقعی را که در دیوان مدنی ستره محکمه بالای آن اجراآت صورت گرفته تقدیم مینمائیم تا موضوع بیشتر واضح گردد؛ مدعی زید خواهان حق الارثی در ملکیت جد امجد خود بکر ولد کریم الله ولدیت بکر است، که بکر مرحوم در سال ۱۳۲۵هـ ش فوت نموده است، بناء مسئله مرور زمان در این موضوع مطرح بود، مدعی علیه نیز اصرار داشت که دعوی مدعی تحت مرور زمان قرار گرفته است، بدین اساس دیوان مدنی از مدعی مذکور هذا در مورد مرور زمان استفسار نمود او گفت که جد امجدم بکر در سال ۱۳۲۵ هـ ش فوت نموده است و جد من رشید در سال ۱۳۳۰هـ ش و پدر مدعی خالد در سال ۱۳۳۲هـ ش فوت نموده است، که بین موت بکر، موت جد مدعی و پدر مدعی ۷ سال گذشته است، اما در این هفت سال هر دو مورث مدعی مذکور اقامه دعوی نکرده اند، اما مدعی میگوید که در این مدت مورثین من و مورثین مؤکلین مدعی علیه بالوکاله متروکه را بطور مشاع استفاده میکردند، در سال ۱۳۳۲هـ ش مورث و پدر مدعی خالد نیز فوت نموده است، که در این وقت خود مدعی برؤیت تذکره اصلی اش که متولد سال ۱۳۳۱هـ ش است، بعمر ۱ ساله صغیر بوده است، در سال ۱۳۴۶هـ ش بعمر ۱۵ ساله رسیده است که به بلوغ آن حکم میشود، مدعی بعد از بلوغ از سنهٔ ۱۳۴۶هـ ش تا سنهٔ ۱۳۵۲هـ ش اقامه دعوی نکرده است، که مدت ٦ سال میشود. مجموعه سالهای که مدعی و مورثینش اقامه دعوی نکرده اند به ۱۳ سال میرسد؛ که مدت مرور زمان را تکمیل نمی کند، بعدا ریال مدعی میگوید در سال ۱۳۵۲هـ ش در محکمه زید آباد در محضر قضاء بالای دو نفر غلام و محمد که پدران و مورثین مؤکلین مدعی علیه بالوکاله میباشند، اقامه دعوی ترکه در متروکه بکر نموده است اما مدعی علیه بالوکاله از آن انکار مینمود، سپس از زید که مدعی بالدفع است طلب اقامه بینه عادله شد، زید مذکور به تاریخ ۱۴۴۵/۱۰/۱۲هـ ق دو نفر شاهدان حاضر آورد، شاهد اول ولی در حالیکه مذکور دارای اهلیت شرعی و قانونی بود، در محضر قضاء در حضور خصمین چنین ادای شهادت نمود، اشهد زه شاهدي ورانديږ کوم چې په ۱۳۵۲هـ ش کال د داود خان د حکومت وخت و او زه د ۱۵ کالو وم، دغه حاجي زيد زما په مخ کې عريضه راوړه او د قاضي په ميز يې کېښودله عريضه د ترکې وه، د عريضې لومړی ورځ وه او جانب مقابل نه نه يم خبر چې څوک و. شهادت این شاهد رد شد چون جانب مقابل را نمی شناخت، شاهد دیگر بنام عبد در حالیکه دارای اهلیت قانونی و شرعی میباشد، در محضر قضاء در حضور خصمین چنین ادای شهادت نمود، اشهد بالله زه شاهدي ورانديږ کوم چې زيد د خالد زوی پر غلام او محمد بانديږ، چې د عبد الکريم او عبد القدير وارثين دي او ملگری يې وکيل ده، په ۱۳۵۲هـ ش کال د زيد آباد ولسوالۍ محکمه کې د ترکې لپاره عريضه کړې وه، د خان آباد د ځمکې دعوه وه، په دې مجلس کې طرفين مدعي او مدعي عليهما دواړه حاضر وو، زما شهادت د سترگو د ليدو دی او زما عمر هغه وخت د ۱۲ کالو وه. مگر شهادت این شاهد رد شد چون در باره عمر خود دروغ گفت و دروغش بین بود از مدعی بالدفع دیگر شهود خواسته شد، حاضر آورد دو شاهد دیگر هر یک غلام در حالیکه مذکور دارای اهلیت شرعی و قانونی خود بود، در محضر قضاء در حضور خصمین چنین ادای شهادت نمود، اشهد زه شاهدي ورانديږ کوم چې دغه زيد په ۱۳۵۲هـ ش کال کې د زيد آباد په محکمه کې د ترکې عريضه کړې وه، زه چې محکمې ته ننوتلم نو کاتب د محکمې د دغه زيد نه پوښتنې کولې، دغه پېښه ما په خپلو سترگو ليدلې او په محکمه کې محمد او غلام

د قادر زامن هم ناست وو، چې په دوی یې عریضه کړې وه ( او عریضه او دعوی یو شی دی.) شاهد دوم محمد در حالیکه دارای اهلیت قانونی و شرعی خود بود چنین ادای شهادت نمود، اشهد بالله شاهدي ورانديې کوم چې دغه زید چې د خالد زوی دی، په ۱۳۵۲هـ ش کال کې د زید آباد په محکمه کې پر غلام او محمد چې د قادر زامن دي دوی باندې عریضه کړې وه، د ځمکې د ترکې لپاره دا پېښه ما په خپلو سترګو لیدلې چې په محکمه کې قاضي صاحبان ناست وو، د دوی نه یې پوښتنې کولې او زه د دروازې خوله کې ناست وم. شهادت شهود به توالی و انفراد در محضر قضاء در حضور خصمین استماع گردید، شهادت این دو شاهد با دعوی مدعی مطابقت داشت طبق هدایت ماده ۱۷۰۶ مجلة الاحکام قبول شد. که در نتیجه مرور زمان تا سال ۱۳۵۲هـ ش قطع گردید، مدعی زید گفت که در سالهای ۱۳۵۳هـ ش و ۱۳۵۴هـ ش طبق قانون حکومت آنوقت برای دو سال در عسکری مصروف بودم، چیزیکه مدعی علیه آنرا نیز قبول داشت و تا سال ۱۳۵۷هـ ش اقامه دعوی نکردم، که دو سال بدون دعوی تیر شده است. بعداً انقلاب کمونست ها در سال ۱۳۵۷هـ ش شروع شد و طبق فرمان مقام محترم عالی رهبری امارت اسلامی ۱۴ سال دورهٔ کمونست ها و ۵ سال دورهُ حکومت ربانی در عذر شمرده میشود؛ بناء تا سال ۱۳۷۵هـ ش عدم اقامه دعوی در عذر داخل است، مدعی در دوران امارت سابقه که ۵ سال بود اقامه دعوی نکرده است و ۵ سال اول حکومت کرزی نیز در عذر داخل است، تا اینکه مدعی در سال ۱۳۹۰هـ ش به قاضی اداره قبلی در همین مورد اقامه دعوی نموده است و این ادعای خود را توسط شهادت دو نفر شهود ثابت ساخت. شاهد اول محمد ابراهیم در حالیکه دارای اهلیت شرعی و قانونی خود بود در محضر قضاء در حضور خصمین علی التوالی والانفراد چنین شهادت نمود، اشهد بالله سره شاهدي ورانديې کوم چې دغه زید د خالد زوی په ۱۳۹۰ هـ ش کال کې په زید آباد محکمه کې په عبد القدیر او عبد الکریم باندې عریضه کړې وه او زه هلته ملګري سره ولاړ وم چې د دوی

او قاضي ترمنځ خبرې روانې وې، په محکمه کې عبد الکریم او عبد القدیر هم موجود وو. شاهد دوم زیارت گل در حالیکه داری تمام اهلیت شرعی و قانونی خود بود در محضر قضاء و در حضور خصمین چنین ادای شهادت نمود، اشهد بالله باندې زه شاهدي ورانديې کوم چې زید د خالد زوی په ۱۳۹۰ هـ ش کال د دولت په وخت کې د ځمکې د ترکې عریضه په عبد الکریم او عبد القدیر باندې کړې وه، دواړه جانبه هلته موجود وو، قاضي صاحب ددواړو جانبو نه پوښتنې کولې، ما په خپلو سترګو دغه حالت لیدلی او دغه عبدالله د عبد الکریم زوی یې اوسنی وکیل دی. شهادت هر دو شاهد موافق دعوی مدعی بود قبول شد.

خلاصه: مورثین مدعی از سال ۱۳۲۵هـ ش تا سال ۱۳۳۲هـ ش اقامه دعوی نکرده است که ۷ سال میشود، از سال ۱۳۳۲هـ ش تا سال ۱۳۴۶هـ ش خود مدعی صغیر بوده است، که طبق ماده ۱۶۶۳مجلة الاحکام در عذر داخل است، از سال ۱۳۴۶هـ ش تا سال ۱۳۵۲هـ ش اقامه دعوی نکرده است، که ۶ سال میشود جمیع مدت که مورثین و خود مدعی اقامه دعوی نکرده است، به ۱۳ سال میرسد که طبق هدایت ماده ۱۶۶۰مجلة الاحکام به حد مرور زمان نمی رسد، مدعی در سال ۱۳۵۲هـش اقامه دعوی کرده است، بعداً دو سال در عسکری بوده در عذر داخل است، از سال ۱۳۵۷هـ ش تا سال ۱۳۹۰ هـ ش اقامه دعوی نکرده است که مدت ۳۳ سال میشود، که ازین مدت ۲۴ سال طبق فرمان مقام محترم عالی رهبری امارت اسلامی در عذر داخل است، باقی ۹ سال میماند که بحد مرور زمان نمی رسد، مدعی در سال ۱۳۹۰هـ ش اقامه دعوی نموده است، بعدا در سال ۱۳۹۵هـ ش در محکمه ابتدائیه ولسوالی زید آباد مربوط امارت اسلامی افغانستان اقامه دعوی نموده است، پس دعوی مدعی طبق هدایت ماده ۱۶۶۳ مجلة الاحکام تحت مرور زمان که خالی از عذر باشد داخل نیست؛ دعوی قابل جریان است.



# د قرآنکريم ترتيب

محمد عيسى کندهاري[١]

